UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د استراتیژیکو اړیکو او ویاند دفتر، کابل، افغانستان
مطبوعاتی بیانیه
http://unama.unmissions.org

**د ټاکنو له ورځې څخه ۳۷ ورځې مخکې: د ټاکنو د بهیر په اړه وینا**

**د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازی، ستفان دی میستورا**

د ولسي جرګې ټاکنې اوس څه د پاسه یوه میاشت وروسته ترسره کیږي او موږ وینو چې په هیواد کې دې پیښې ته زیاته پاملرنه کیږي. د زیات شمیر نوماندانو کمپاین زور اخیستی دی او زه په ځانګړی ډول د ښځو کاندیدانو کمپاین هڅولی یم. موږ په دې بهیر کې بشپړه بې پلوی یاستو، خو موږ د دې مسوولیت لرو چې له افغانانو سره مرسته وکړو، چې تر ټولو ښې ممکنې ټاکنې ولري، چې دوی یې مستحق دي.

د ټاکنو د خپلواک کمیسیون خپلو فعالیتونو ته د ټاکنو د مهال ویش سره سمه ادامه ورکوي. د ټاکنو حساس مواد (د رایې پاڼې) په تیره اونۍ کې هیواد ته راورسیدې. د ټاکنو کمیسیون په عملیاتي او په اداري لحاظ خپله لار تعقیبوي. لکه څنګه چې موږ ژمنه کړې ده، د ملګرو ملتونو مرستې له ټاکنو سره اغیزناکې دي، خو د افغاني چارواکو زیاتیدونکي ظرفیت د اهمیت وړ دی.

موږ غواړو په ځینو ننګونو رڼا واچو، لومړنی ګواښ په ټاکنو کې د امنیت مساله ده، چې کیدای شي ټوله پروسه ګډه وډه کړي. د ښځو کاندیدانو په اړه موږ د ډاروني زیاتې پیښې، د دریو تنو کاندیدانو وژنه او له نورو زیاتو کانداندانو سره تاوتریخوالی ولیدل. دغه پیښې د منلو وړ نه دی او موږ په افغاني امنیتي ځواکونو غږ کوو، چې په راتلونکو دوو میاشتو کې ډیره بیداري وښیي.

موږ ټول پوهیږو چې د امنیت ننګونه یو جدي خنډ دی او موږ باید دا باور ي کړو چې د هیواد په ځینو برخو کې د کمزوري امنیتی حالت څخه باید د دې لپاره کار وانه اخیستل شي چې د خلکو په رایو کې لاس وهنه وشي.

په ډیرې خوښۍ سره موږ معلومات تر لاسه کړ چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون د امنیتي ادارو څخه د رایو د اچوونې د مرکزونو په اړه ارزونې تر لاسه کړې دي او اوس دا کمیسیون خپلې کتنې او څیړنې د دې لپاره ترسره کوي چې وروستنی لست یو واقعي عملي لست دی. هغه به د اګست په ۱۵ نېټه بشپړ شي. دا د ډیر زیات اهمیت وړ ده او هغه هم د عملیاتي دلیلونو له مخې او د دغو ټاکنو د اعتبار لپاره څو چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون دغه لست د اګست د ۱۸ نیټې ترمخه د عوامو لپاره نشر ته وسپاري. یوه میاشت د ټاکنو ترمخه د دغه لست عوامو ته خپرول د ټاکنیزې پروسې د شفافیت لپاره ډیر اهمیت لری. دا به همدارنګه د تیر کال د جمهوري ریاست لپاره د ټاکنو د همدغې مودې په پرتله یو د پام وړ توپیر او پرمختګ څرګند کړي.

موږ همدارنګه په دې ډیر خوښ یوو چې د کورنیو چارو وزارت د لازیاتو ښځینه تلاشي کوونکو پولیسو د استخدام، روزنې او پر کار ګومارل پیل کړي دي چې هغوي به د ښځینه رایه اچوونې په مرکزونو کې امنیت باوري کوي. دا اوس ضروري او مهمه ده چې په دې برخه کې باید نور وخت ضایع نه شي.

موږ غواړو د ټول ټاکنو د نظارت نړیوال او داخلي دواړه ماموریتونه تشویق کړو او همدارنګه د نوماندانو څخه غوښتنه کوو څو خپل استازی او د ګوند استازي ثبت کړي- دغه استازي کولای شي د ټول ټاکنو د ټولې پروسې د نظارت کولو په برخه کې یو مهم رول ولوبوي.

د ټول ټاکنو د شکایتونو کمیسیون د رایې ورکوونکو د ثبت د لړۍ د غځولو وړاندیز کړي وو. د ټول ټاکنو د خپلواک کمیسیون په ډاګه کړې چې دا پروسه نوره وړاندې ونه غځول شي ځکه چی ښایی دا کار د دی لامل وګرځی چی د جعلی رای کارتونه شمیره ډیره شی کوم چی موږ یی د کال ۲۰۰۹ په ټول ټاکنو کی شاهد وو. د دی برسیره د ټول ټاکنو د خپلواک کمیسیون په اند دوه میاشتی د کارت د اخیستلو لپاره کافی ډیره موده ده. موږ د ټول ټاکنو د کمیسیون د دغې پریکړې او د هغوي د دوامدارو هڅو او ستونزمنو پریکړو د نیولو چې موخه یې د درغلیو او د ټول ټاکنو د نورو بې نظمیو د کچې راکمول دي، پوره ملاتړ کوو.

زموږ وروستي پیغام رای اچوونکو ته دا دي، چې دا ټول ټاکنې ستاسو خپلې دي. ټول نوماندان، د هغوي کمپاینونه او د هغوي سیاسي پیغامونه تعقیب کړئ څو وکولای شي د سپټمبر د میاشتې په ۱۸ نېټه سمه رایه واچوئ. ستاسو رایه په دغه مهم پړاو کې ستاسو د هیواد د راتلونکی د معلومولو په برخه کې ستاسو وروستۍ پریکړه ده.

**Strategic Communication and Spokespersons Unit**
**United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA)**
**Kabul, Afghanistan**

**Tel: 079 000 6121; +39 083 124 6121**

**http://unama.unmissions.org**

**Subscribe online to ensure you receive news from UNAMA.**